# په پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه کې د تدریس په کیفیت د اغېزناکو عواملو درجه بندي

**پوهنیار عبدالله حبیبي[۱]، پوهنیار حبیب الرحمن ستانکزی[۲]**

د منجمنټ او تشبثاتو د اداري څانګه، اقتصاد پوهنځي، پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه، پکتیکا، افغانستان[۱]
د منجمنټ او تشبثاتو د اداري څانګه، اقتصاد پوهنځي، پکتیا پوهنتون، پکتیا، افغانستان[۲]
ایمیل: abd.habibi.af@gmail.com

**لنډیز**

دغه څېړنه په پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه کې د تدریس په کیفیت د اغېزناکو عواملو د درجه بندي په موخه تر سره شوې دی. د ارقامو د راټولولو لپاره د لیکارت مقیاس په اساس پوښتنپاڼه ترتیب شوې، د نمونې د حجم په ټاکنه کې د کوکران له روش څخه استفاده شوي او پوښتنپاڼې د ساده تصادفي روش مطابق توزیع شوې دي. د ارقامو د تحلیل لپاره له24 SPSS پروګرام څخه استفاده شوي او اطلاعات د فریډمن ټسټ په واسطه درجه بندي شوي دي. د څېړنې پایلو ښودلې دی، چې د محصلینو له نظره د استاد شخصي او مسلکي عوامل په لومړی، د مؤسسې خارجي عوامل په دویمه او د فزیکي فضاء عوامل په درېیمه درجه کې راځي او د استادانو له نظره د استاد شخصي او مسلکي عوامل په لومړی، د ټولګي د مدیریت عوامل په دویمه او د مؤسسې خارجي عوامل په درېیمه درجه کې راځي.

**کلیدی اصطلاحات**: د تدریس کیفیت؛ لوړې زده کړې؛ داخلي اغېزناک عوامل؛ خارجي اغېزناک عوامل؛ پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه

# Ranking of Factors Affecting the Quality of Teaching in Paktika Institute of Higher Education

**Jr. Teaching Asst. Abdullah habibi[1], Jr. Teaching Asstt. habiburahman stanakzai[2]**

Department of management and business administration, faculty of Economics, paktika institute of higher education[1]
Department of management and business administration, Faculty of Economics, Paktia University, Paktia, Afghanistan[2]
Email: abd.habibi.af@gmail.com

**Abstract**

This research endeavors to assess and rank the determinants influencing the quality of teaching at Paktika Higher Education Institute. Data collection relied on a structured questionnaire employing a Likert scale. Cochran's method was instrumental in determining the sample size, while questionnaires were distributed through a simple random method. Subsequently, SPSS 24 software facilitated data analysis, with information classified using the Friedman test. The findings, as perceived by students, highlight the paramount importance of personal and professional attributes of instructors, ranking first, followed by institutional external factors in the second position, and physical environment factors securing third place. Conversely, from the educators' perspective, teachers' personal and professional attributes occupy the top spot, classroom management factors hold second place, and institutional external factors claim the third rank. This research provides valuable insights into the factors shaping the quality of teaching at Paktika Higher Education Institute, offering a multifaceted perspective from both students and teachers.

**Keywords**: Teaching Quality; Higher Education; Internal Influencing Factors; External Influencing Factors; Paktika Institute of Higher Education

**سریزه**

په هېواد کې د لوړو زده کړو د کیفیت د لوړولو په موخه د ملکي لوړو زده کړو قانون وضع شوی دی. ددې قانون له مخې دولتي لوړو زده کړو مؤسسه هغه انستیتوت دی، چې د دولت له خوا تأسیس، تمویل، اداره او رهبري کېږي او په لیسانس او یا له هغه څخه په لوړو تحصیلي درجو کې د روزنې او علمي څېړنو په موخه فعالیت کوي (عدلیې وزارت، ۱۳۹۸). په هر هېواد کې لوړې زده کړې د پراختیا اصلي محور وي او له بلې خوا د پوهې د تولید او ذخیرې او هم د کلکتوري میراثونو د انتقال اصلي وسیله ګڼل کېږي (فراستخواه، ۱۳۸۹).

په هېواد کې د شته لوړو زده کړو مؤسساتو له جملې څخه یوه هم پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه ده، چې په ۱۳۹۱ هجري لمریز کال کې د ښوونې او روزنې پوهنځي په درلودا سره ایجاد شوې ده. د لوړو زده کړو په دې مؤسسه کې په ۱۳۹۳ کال کې کرنه پوهنځی، په ۱۳۹۹ کال کې اقتصاد او انجینري پوهنځي او په ۱۴۰۱ کال کې شرعیاتو پوهنځی هم ایجاد شوي دي، چې اوس مهال یې د ټولو پوهنځیو شمېر پنځو ته رسېږي (ستراتیژیک پلان کمېټه، ۱۴۰۱).

یو له هغو بحثونو څخه چې همېشه په لوړو زده کړو کې تر بحث لاندې وي او هغه ته جدي پاملرنه شوې، کیفیت ګڼل کېږي. په نړۍ کې د پوهنتون او لوړو زده کړو د کیفیت بحث د شلمي پېړۍ له دویمي نیمایي څخه په ځانګړي توګه په اتیایمو کلونو کې ډېر زیات شوی دی؛ ځکه د پوهنتون او لوړو زده کړو د شتون علت د تحول په حال کې دی، هغوی باید خپلې موخې له سره تعریف کړي او دې موخو ته په کتنې سره خپلې کړنې تر ارزونې لاندې ونیسي (Brennan & Shah, 2010). په لوړو زده کړو کې کیفیت له توقعاتو، موخو، ماموریت او ټاکل شوي معیارونو سره د لوړو زده کړو د وضعیت مطابقت ته ویل کېږي (شهرکی پور، ۱۳۹۱). په پرمختللي هېوادونو کې د زده کړې کیفیت دومره زیات شوی ده، چې هغوی د قدرت په سر رقابت کوي؛ نو ځکه په دې برخه کې د هغوی هڅه د زده کړې له کیفیت سره مستقیمه اړیکه لري (صوری، حنیفی، ناظم، ۱۳۹۹).

څرنګه چې د لوړو زده کړو کیفیت لوړول د تدریس د کیفیت له لوړولو سره مستقیمه اړیکه لري؛ نو ځکه باید د تدریس کیفیت لوړولو ته پوره پاملرنه وشي. ددې لپاره چې د تدریس په کیفیت د اغېزناکو عواملو په برخه کې لومړیتوبونه وپېژندل شي د یوې څېړنې تر سره کولو ته اړتیا لیدل کېږي او دې اړتیا ته په کتنې سره به دغه څېړنه تر سره شي. د دې څېړنې موخه دا دی، چې په پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه کې د محصلینو او استادانو له نظره د تدریس په کیفیت د اغېزناکو فرعي او اصلي عواملو درجه بندي وشي او هغه عوامل وپېژندل شي، چې د نورو په پرتله ډېر اغېزناک دي. دغه څېړنه په راتلوونکي تصمیم

نیونه کې ډېر اهمیت لري او په پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په مؤسساتو کې د تدریس د کیفیت د ښه کولو او د لوړو زده کړو د کیفیت د لوړولو په برخه کې ډېره مرسته کولای شي. ددې څېړنې په پایله کې به لاندې پوښتنې ځواب شي:

۱. د محصلینو له نظره د اغېزناکو عواملو له جملې څخه کوم عامل د تدریس په کیفیت ډېر اغېز لري؟

۲. د استادانو له نظره د اغېزناکو عواملو له جملې څخه کوم عامل د تدریس په کیفیت ډېر اغېز لري؟

**د څېړنې شالید**

د ددې څېړنې د موضوع په تړاو تر اوسه په هېواد کې دننه کومه څېړنه نه دی خپره شوي؛ خو له هېواده بهر په مختلفو هېوادونو کې، دې څېړنې ته په ورته مسائلو کې مختلفې څېړنې ترسره شوي ده، چې په دې برخه کې به ترې لنډه یادونه وکړو. یعقوبي او زرندي (۲۰۱۸) کوم عوامل د زده کړې په کیفیت اغېز کوي؟ تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړي دی او داسې پایله یې ترلاسه کړي دی چې ۱۴ عوامل د استادانو په ښوونیزه ارزونه کې شامل ده.

غنچي، حسیني او حجازي (۱۳۹۱) د تهران پوهنتون د کرنې د فارمونو د استادانو له نظره د تدریس د کیفیت ټاکوونکي اجزاوو پېژندنه او درجه بندي تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړي دی. ددې څېړنې پایلو ښودلي دی، چې د استادانو عمر، علمي رتبه، په تدریس کې تجربه د تدریس له کیفیت سره مثبته او معنی لرونکي اړیکه لري. ددې ترڅنګ له دې څېړنې څخه تر لاسه شوي دي، چې درسي پلان، د تدریس مهارتونه، د مفاهمې مهارتونه او د استاد شخصي او مسلکي مهارتونه په مجموع کې د تدریس د کیفیت د اجزاوو د وریانس ۷۴ فیصده تشکیلوي.

ددې ترڅنګ دوریسوا او همکارانو (۲۰۱۵) په لوړو زده کړو کې د تدریس ارزونه او بررسي څېړنې په ترڅ کې موندلې دی، چې ارزونه د محصلینو د شخصیت جوړونې او په راتلوونکي کاري ساحه کې د هغوی د تیاري یوه اغېزمنه وسیله ګڼل کېږي، ددې ترڅنګ په لوړو زده کړو کې د تدریس د کیفیت او ارزونې ترمنځ یوه قوي مثبت اړیکه شتون لري.

همدارنګه مطلبي فرد، نوه ابراهیم او محسن زاده (۱۳۹۱) د ماستري د محصلینو له نظره په تدریس او زده کړه کې د اخلاقي او مسلکي علایمو بررسي تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړي ده. د دې څېړنې په پایله کې اته اجزاوي، په زده کړه کې اغېزمنتوب، د محتوا په وړاندې کولو کې اغېزمنتوب، مسلکي چلن، د محصلینو هر اړخیزې ودې ته پاملرنه، همکارانو ته درناوی، په ټولګي کې مناسبه بحثي فضاء، ټولګي ته درناوی او په پای کې مناسبه ارزونه د مهمو عواملو په توګه پېژندل شوي دي.

مصلح او خسروی (۱۳۹۴) د محصلینو په واسطه د پوهنتون د استادانو د تدریس د کیفیت د ارزونې روشونو بررسي تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړې دی. د دې څېړنې پایلو ښودلی دی، چې د محصلینو په واسطه د تدریس د کیفیت اوسنی ارزونه یو شمېر کمزورتیاوي لري، د ارزونې دغه روشونه باید تر بیا کتنې لاندې ونیول شي.

حمیتی او همکارانو (۲۰۱۵) په پوهنتون کې د تدریس د کیفیت په ښه والي او زده کړه ییزي پروسه کې د کمپیوتر رول تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړي ده. ددې څېړنې پایلو ښودلې دی، چې څېړنه، وړاندې کوونه، اړیکې، همکاری، د مسئلې حل کول، خنډونه او خلاقیت د دود شوې تکنالوژۍ او کمپیوتر تر اغېز لاندې دي او په ورځني تدریس کې مهم رول لوبوي؛ نو ځکه مهمه دی، چې تکنالوژي ته په تدریس او د زده کړي په پروسه کې ونډه ور کړل شي.

رشیدا او همکارانو (۲۰۱۹) د لوړو زده کړو په مؤسسه کې د زده کړې د پایلي په کیفیت اغیزمن عوامل تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړي ده. ددې څېړنې پایلو ښودلې ده، چې د مکتب د نوعیت (کلیوال یا ښاري) او د زده کوونکو د ترنینګ د پایلو ترمنځ معنی لرونکي اړیکه نه دی لیدل شوي.

له پورته څېړنو سربېره خدیوي او همکارانو (۱۳۹۷) د ایران په فرهنگیان پوهنتون کې د زده کړې او تدریس په کیفیت د اغېزناکو عواملو بررسي تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړي ده، چې حاضره څېړنه هم د هغوی د څېړنې د پایلو پر بنسټ تر سره کېږي او دې څېړنې ته په محتوا کې ورته والی لري. خدیوي او همکارانو (۱۳۹۷) د پوهنتون له استادانو او محصلینو سره مصاحبې کړي ده او ددې مصاحبو له لارې یې د تدریس په کیفیت اغېزناک عوامل په اوه اصلي کتګوریو وېشلي ده، چې د استاد شخصي او مسلکي عوامل، د درسي پروګرام عوامل، د زده کړه ییزي ارزونې عوامل، د ټولګي د مدیریت عوامل، د فزیکي فضاء عوامل، د مؤسسې خارجي عوامل او د مؤسسې داخلي عوامل پکې شامل ده. خدیوي او همکارانو (۱۳۹۷) په خپله څېړنه کې د استادانو او محصلینو له نظره یوازې د اغیزمنو اصلي عواملو درجه بندي کړي دی؛ خو په حاضره څېړنه کې د اصلي عواملو ترڅنګ د تدریس په کیفیت د اغېزناکو فرعي عواملو درجه بندي هم تر سره کېږي، ترڅو د هېواد په تحصیلاتې نظام کې د لومړیتوبونو په پېژندنه کې مرسته وکړي.

**د څېړنې روش**

دغه څېړنه د ماهیت له نظره د توصیفي څېړنو او د ارقامو د راټولولو د څرنګوالي له نظره د میداني څېړنو له جملې څخه ګڼل کېږي. د ارقامو د را ټولولو لپاره له پوښتنپاڼې څخه استفاده شوی ده، د پوښتنپاڼې په جوړښت کې تر ډېره د اسدالله خدیوي او همکارانو د څېړنې له موندنو څخه استفاده شوي او د هغې سربېره د څېړونکی له نظر یو شمېر نور مهم عوامل هم په نظر کې نیول شوي دي. پوښتنپاڼه د لیکارت

مقیاس په اساس ترتیب شوې دی او په جوړښت کې یې د تدریس په کیفیت اغېزناک ۷ اصلي عوامل او ۵۲ فرعي عوامل شامل ده، چې د هغو له جملې څخه ۱۱ فرعي عوامل د استاد په شخصي او مسلکي اصلي عامل کې، ۱۱ فرعي عوامل د درسي پروګرام په اصلي عامل کې، ۷ فرعي عوامل د زده کړې د ارزونې په اصلي عامل کې، ۴ فرعي عوامل د ټولګي د مدیریت په اصلي عامل کې، ۵ فرعي عوامل د فزیکي فضاء په اصلي عامل کې، ۵ فرعي عوامل د پوهنتون په خارجي اصلي عامل کې او ۹ فرعي عوامل د پوهنتون په داخلي اصلي عامل کې داخل ګڼل شوي دي. د پوښتنپاڼې له ثبات او دقت څخه د اطمنان په خاطر د خدیوي او همکارانو له خوا د هغې د کرونباخ الفاء په سنجش باور شوی او د تائید وړ ګرځېدلې دی. د څېړنې لپاره په پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه کې دوه جامعې په نظر کې نیول شوی دي، چې یوه یې د استادانو او بله یې د محصلینو له جامعې څخه عبارت دی. په پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه کې د روان ۱۴۰۱ هجری لمریز کال په خزاني سمستر کې د استادانو ټول شمېر ۵۸ تنو ته او د محصلینو ټول شمېر ۱۵۲۷ تنو ته رسیده. له دې دواړو جامعو څخه د کوکران د روش په اساس نمونی انتخاب شوي دی او د نمونې په توګه ۳۰۷ تنو محصلینو او ۵۰ تنو استادانو ته د څېړنې پوښتنپاڼې د ساده تصادفي نمونې اخیستنې له روش سره سم توزیع شوی دي، له توزیع شوې پوښتنپاڼو څخه له ځوابولو وروسته ۴۸ پوښتنپاڼې له استادانو او ۳۰۱ پوښتنپاڼې له محصلینو څخه بېرته ترلاسه شوې او تر تحلیل لاندې نیول شوې دي. محصلین د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې په څلور فعال پوهنځیو پورې اړه لري، چې ۱۱۵ تنو یې له ښوونې او روزنې پوهنځي څخه، ۱۲۴ تنو یې له اقتصاد پوهنځي څخه، ۴۵ تنو یې له انجینري پوهنځي څخه او ۱۷ تنو یې له کرنې پوهنځي څخه انتخاب شوي دي. د څېړنې لپاره استادان هم له څلور واړه فعال پوهنځیو څخه انتخاب شوي دي، چې ۲۹ تنو یې په ښوونه او روزنه پوهنځي، ۸ تنو یې په اقتصاد پوهنځي، ۵ تنو یې په انجینري پوهنځي او ٦ تنو یې په کرنې پوهنځي پورې اړه لري. د پوښتپاڼې له لارې را ټول شوي ارقام د SPSS 24 پروګرام په مرسته تر توصیفي او استنباطي تحلیل لاندې نیول شوي دي او د اطلاعاتو له نورمال والي څخه له اطمنان وروسته د عواملو د درجه بندي لپاره د فریډمن له ټسټ څخه استفاده شوي دی.

## د څېړنې موندنې

لومړی - د تدریس په کیفیت د اغېزناکو فرعي عواملو درجه بندي

۱- د استاد د شخصي او مسلکي عواملو درجه بندي: د استاد په شخصي او مسلکي ځانګړتیاوو پورې د اړوند فرعي عواملو درجه بندي په لاندې جدول کې ښودل شوې ده:

لومړی جدول: د تدریس په کیفیت د اغېزناکو فرعي عواملو درجه بندي

| ګڼه | د تدریس په کیفیت اغېزناک فرعي عوامل | د محصلینو له نظره | | | د استادانو له نظره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړی کتګوری د استاد شخصي او مسلکی عوامل | اوسط | معیاري انحراف | درجه | اوسط | معیاري انحراف | درجه |
| ۱ | پوهنتون ته د استاد ژمنتیا او د مسؤلیت احساس | ۴,۸٦۰ | ۰,۴۰۹ | ۱ | ۴,۸۹۵ | ۰,۳۱۲ | ۱ |
| ۲ | په تدریس کې د استاد تجربه | ۴,۸۵۰ | ۰,۳۹۳ | ۲ | ۴,۷۰۲ | ۰,۵۰۷ | ٦ |
| ۳ | د استاد مسلکی پوهه او تدریس ته تیاری نیول | ۴,۸۰۴ | ۰,۴۳۰ | ۳ | ۴,۸۹۴ | ۰,۳۷۵ | ۲ |
| ۴ | د استاد منظم والی او د وخت مدیریت کول | ۴,۷۵۷ | ۰,۴۹۴ | ۴ | ۴,۷۴۵ | ۰,۵۳۰ | ۵ |
| ۵ | محصلانو ته د استاد متقابل درناوی او ښه سلوك | ۴,۷۴۱ | ۰,۵۴۱ | ۵ | ۴,٦۸۱ | ۰,۵۱۵ | ۷ |
| ٦ | د استاد د مفاهمې مهارتونه | ۴,۷۲۱ | ۰,۵۴۹ | ٦ | ۴,۷٦٦ | ۰,۴۷٦ | ۳ |
| ۷ | د استاد علمي هڅه او انګیزه لرل | ۴,٦۴۸ | ۰,۵٦۲ | ۷ | ۴,۷۴٦ | ۰,۴۴۱ | ۴ |
| ۸ | د استاد لوړه تحصیلي درجه او علمي رتبه | ۴,٦۰۱ | ۰,٦۰٦ | ۸ | ۴,۲۷۷ | ۰,۸۲٦ | ۱۱ |
| ۹ | په تدریس کې له زده کړه ییزي تکنالوژی څخه استفاده | ۴,۵۲۲ | ۰,۷۴٦ | ۹ | ۴,۴٦۸ | ۰,۷۷٦ | ۹ |
| ۱۰ | له پوهنتون څخه د استاد د رضایت کچه | ۴,۵۱۹ | ۰,٦٦٦ | ۱۰ | ۴,۳۸۳ | ۰,۷٦۸ | ۱۰ |
| ۱۱ | د استاد د کاري وجدان وده | ۴,۵۱۸ | ۰,٦۸۱ | ۱۱ | ۴,٦۱۷ | ۰,٦۴۴ | ۸ |

له پورته جدول څخه څرګندېږي، چې د استاد د شخصي او مسلکي عواملو له جملې څخه د محصلینو له نظره پوهنتون ته د استاد ژمنتیا او د مسؤلیت احساس په لومړی، په تدریس کې تجربه په دویمه او د استاد مسلکي پوهه او تدریس ته تیاری نیول په درېیمه درجه کې راځي او د استادانو له نظره پوهنتون ته د استاد ژمنتیا او د مسؤلیت احساس په لومړی، مسلکي پوهه او تدریس ته تیاری نیول په دویمه او د استاد د مفاهمې مهارتونه په درېیمه درجه کې راځي.

۲- د درسي پروګرام د عواملو درجه بندي: په درسي پروګرام پورې د اړوند اغېزناکو فرعي عواملو درجه بندي په لاندې جدول کې ښودل شوې دی:

دویم جدول: د درسي پروګرام د عواملو درجه بندي

| ګڼه | د تدریس په کیفیت اغېزناک فرعي عوامل | د محصلینو له نظره | | | د استادانو له نظره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | دویمه کتګوري د درسي پروګرام عوامل | اوسط | معیاري انحراف | درجه | اوسط | معیاري انحراف | درجه |
| ۱ | د محصل پوښتنو ته مناسب ځواب او غبرګون ورکول | ۴,۸۱۷ | ۰,۴۱۲ | ۱ | ۴,۷٦٦ | ۰,۴۷٦ | ۱ |
| ۲ | د محصل محوري په اساس تدریس کول | ۴,٦۹۴ | ۰,٦۰۵ | ۲ | ۴,۵۵۳ | ۰,٦۵۳ | ۲ |
| ۳ | د منظم مهال وېش شتون | ۴,٦۸۱ | ۰,۵۵۲ | ۳ | ۴,۲۷۷ | ۰,۷۴۳ | ۸ |
| ۴ | محصلانو ته د پروژو او سمینارونو ورکړه | ۴,٦۷۱ | ۰,۵۹۰ | ۴ | ۴,۴۴۷ | ۰,٦۱۹ | ۳ |
| ۵ | د درس په پای کې نتیجه ګیري کول | ۴,٦۴۸ | ۰,٦۸۰ | ۵ | ۴,۴۲٦ | ۰,٦۸۳ | ۴ |
| ٦ | کورنۍ دنده ورکول | ۴,۵۹۸ | ۰,٦۸۹ | ٦ | ۴,۳۱۹ | ۰,٦۹۵ | ۷ |
| ۷ | د کورس پالیسي شتون او صحیح تطبیق | ۴,۵۷۵ | ۰,٦۵۲ | ۷ | ۴,۳۸۳ | ۰,۷۳۹ | ۵ |
| ۸ | د استاد له خوا د هر فصل موخې تشریح کول | ۴,۵۳۵ | ۰,٦۴۵ | ۸ | ۴,۲۱۳ | ۰,۷۷۸ | ۱۰ |
| ۹ | د ګروپي کار په شکل تدریس کول | ۴,۴۴۵ | ۰,۷۲۷ | ۹ | ۴,۲۵۵ | ۰,۷۰٦ | ۹ |
| ۱۰ | له تدریسي بهیر څخه د ویډیو یا اډیو ثبتول | ۴,۳۷۵ | ۰,۷۷۲ | ۱۰ | ۴,۱۲۸ | ۰,۹۰۰ | ۱۱ |
| ۱۱ | د پایلو پر بنسټ تدریس کول | ۴,۳۷۲ | ۰,۸۴۱ | ۱۱ | ۴,۳۴۰ | ۰,۷۰۰ | ٦ |

له جدول څخه څرګندېږي، چې د درسي پروګرام په عواملو کې د محصلینو له نظره د محصل پوښتنې ته مناسب ځواب او غبرګون ورکول په لومړۍ درجه، د محصل محوري په اساس تدریس کول په دویمه درجه او د منظم مهال وېش شتون په درېیمه درجه کې راځي، د استادانو له نظره هم د محصل پوښتنو ته مناسب ځواب او غبرګون ورکول په لومړۍ درجه، د محصل محوري په اساس تدریس کول په دویمه درجه او محصلینو ته سمینارونه او پروژو ورکول په درېیمه درجه کې راځي.

۳- د زده کړه ییزي ارزونې د عواملو درجه بندي: په زده کړه ییزه ارزونه پورې د اړوند اغېزناکو فرعي عواملو درجه بندي په لاندې جدول کې ښودل شوي دی:

دریم جدول: د زده کړه ییزي ارزونې د عواملو درجه بندي

| ګڼه | د تدریس په کیفیت اغېزناک فرعي عوامل | د محصلینو له نظره | | | د استادانو له نظره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | دریمه کتګوری د زده کړه ییزي ارزونې عوامل | اوسط | معیاري انحراف | درجه | اوسط | معیاري انحراف | درجه |
| ۱ | په ارزونه کې له ټولو محصلینو سره یوشان چلند | ۴,۷۹۱ | ۰,۴۷۵ | ۱ | ۴,۳۸۳ | ۰,۷۹۵ | ۴ |
| ۲ | د تدریس په جریان او پای کې ارزونه کول | ۴,۷۰۴ | ۰,۵۳۸ | ۲ | ۴,۳۸۳ | ۰,۷۳۹ | ۳ |
| ۳ | له نوي درس مخکې د تېر درس ارزونه کول | ۴,٦۲۵ | ۰,٦۱۳ | ۳ | ۴,۴۴۷ | ۰,۷۱۷ | ۱ |
| ۴ | په ارزونه کې له محصلینو سره مناسب عکس العمل | ۴,٦۱۱ | ۰,٦۸۲ | ۴ | ۴,۴۲٦ | ۰,۷۱۵ | ۲ |
| ۵ | په ګروپي شکل سره د استاد لخوا اروزنه کول | ۴,۴۰۹ | ۰,۷۵۴ | ۵ | ۳,۸۰۹ | ۰,۸۵۱ | ۵ |
| ٦ | د ټولو استادانو لخوا په یوه روش سره ارزونه کول | ۴,۳۸۲ | ۰,۸۳۱ | ٦ | ۳,۷٦٦ | ۱,۰۸۸ | ٦ |
| ۷ | په ارزونه کې د استاد علمي سختي او جدیت کول | ۴,۲۹۹ | ۰,۹۰۸ | ۷ | ۳,۷۲۳ | ۱,۰۵۷ | ۷ |

له پورته جدول څخه څرګندېږي، چې په زده کړه ییزه ارزونه پورې د اړوند عواملو په درجه بندي کې د محصلینو له نظره په ارزونه کې له ټولو محصلینو سره یوشان چلند کول په لومړۍ درجه، د تدریس په جریان او پای کې ارزونه کول په دویمه درجه او له نوي درس مخکې د تېر درس ارزونه کول په دریمه درجه کې راځي؛ خو د استادانو له نظره له نوي درس مخکې د تېر درس ارزونه په لومړۍ درجه، په ارزونه کې له محصلینو سره مناسب عکس العمل لرل په دویمه درجه او د تدریس په جریان او پای کې ارزونه کول په دریمه درجه کې راځي. له دې سربېره په ګروپي شکل سره د استاد لخوا ارزونه کول، د ټولو استادانو له خوا په یوه روش سره ارزونه کول او په ارزونه کې د استاد جدیت کول د محصلینو او استادانو دواړو له نظره په پنځمه، شپږمه او او اوومه درجه کې راځي.

۴- د پوهنتون ټولګي د مدیریت د عواملو درجه بندي: د ټولګي په مدیریت پورې د اړوند اغېزناکو فرعي عواملو درجه بندي په لاندې جدول کې ښودل شوې ده:

څلورم جدول: د ټولګي د مدیریت د عواملو درجه بندي

| ګڼه | د تدریس په کیفیت اغېزناک فرعي عوامل | د محصلینو له نظره | | | د استادانو له نظره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | څلورمه کټګوري<br>د ټولګي د مدیریت عوامل | اوسط | معیاري انحراف | درجه | اوسط | معیاري انحراف | درجه |
| ۱ | د بحث / پوښتنو علمي ازادي | ۴,۷۱۴ | ۰,۵۵۸ | ۱ | ۴,۴٦۸ | ۰,٦۲۰ | ۳ |
| ۲ | ټولګي کې د محصلینو شمېر | ۴,۷۱۲ | ۰,۵۵۹ | ۲ | ۴,۵۹٦ | ۰,۵۳۸ | ۱ |
| ۳ | د ټولګي مناسب نظم | ۴,٦۵۱ | ۰,٦۰۱ | ۳ | ۴,۳۱۹ | ۰,۹۳۵ | ۴ |
| ۴ | د محصلینو دقیقه حاضري اخیستل او قانوني چلندکول | ۴,۴۱۴ | ۰,۸۰٦ | ۴ | ۴,۴۸۹ | ۰,۷۱۸ | ۲ |

لکه څرنګه چې له پورته جدول څخه څرګندېږي، د محصلینو له نظره د مباحثې او پوښتنې کولو علمي ازادي په لومړۍ، په ټولګې کې د محصلینو شمېر په دویمه او د ټولګي مناسب نظم (محیط) په درېیمه درجه کې راځي؛ خو د استادانو له نظره په ټولګې کې د محصلینو شمېر په لومړۍ، د محصلینو دقیقه حاضري اخیستنه په دویمه او په ټولګې کې محصلینو ته د بحث او پوښتنې کولو علمي ازادي ورکول په درېیمه درجه کې راځي.

۵- د فزیکي فضاء د عواملو درجه بندي: په فزیکي فضاء پورې د اړوند اغېزناکو فرعي عواملو درجه بندي په لاندې جدول کې ښودل شوې دي:

پنځم جدول: د فزیکي فضاء د عواملو درجه بندي

| ګڼه | د تدریس په کیفیت اغېزناک فرعي عوامل | د محصلینو له نظره | | | د استادانو له نظره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | پنځمه کټګوري<br>د فزیکي فضاء عوامل | اوسط | معیاري انحراف | درجه | اوسط | معیاري انحراف | درجه |
| ۱ | د مطالعې معیاري ځایونه | ۴,۷۲۸ | ۰,۵۲۲ | ۱ | ۴,۴۸۹ | ۰,٦۸۸ | ۳ |
| ۲ | د لابراتوارونو، عملي کار ځایونو او وسایلو شتون | ۴,۷۲۱ | ۰,٦۳۹ | ۲ | ۴,۷٦٦ | ۰,۵۲۰ | ۱ |
| ۳ | د کتابتون امکانات | ۴,٦۸۱ | ۰,٦٦۲ | ۳ | ۴,۵۳۲ | ۰,۵۸۴ | ۲ |
| ۴ | شنه فضاء او ښکلی محیط | ۴,٦۴۸ | ۰,۷۰۹ | ۴ | ۴,۳۱۹ | ۰,۸۳۷ | ۴ |
| ۵ | معیاری ټولګی او امکانات | ۴,۵۵۱ | ۰,۷۰۸ | ۵ | ۴,۱۹۱ | ۰,۸۷٦ | ۵ |

لکه څرنګه چې له پورته جدول څخه څرګندېږي، د فزيکي فضاء په عواملو کې د محصلينو له نظره د مطالعې لپاره د معياري ځايونو (سالونونه) شتون په لومړۍ، د لابراتوارونو، عملي کار ځايونو او وسايلو شتون په دويمه او د کتابتون امکانات او د نوي کتابونو موجوديت په درېيمه درجه اغېزناک عواملو کې راځي؛ خو د استادانو له نظره د لابراتوارونو، عملي کار ځايونو او وسايلو شتون لومړۍ درجه، د کتابتون امکانات دويمه درجه او د معالعې لپاره د معياري ځايونو شتون درېيمه درجه اغېزناک عوامل ګڼل شوي دي.

۶- د مؤسسې د خارجي عواملو درجه بندي: د مؤسسې په خارج پورې د اړوند اغېزناکو فرعي عواملو درجه بندي په لاندې جدول کې ښودل شوې ده:

شپږم جدول: د مؤسسې د خارجي عواملو درجه بندي

| ګڼ | د تدريس په کيفيت اغېزناک فرعي عوامل | د محصلينو له نظره | | | د استادانو له نظره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | شپږمه کټګورۍ<br>د مؤسسې خارجي عوامل | اوسط | معياري انحراف | درجه | اوسط | معياري انحراف | درجه |
| ۱ | له زده کړې سره د محصلينو علاقه او انګيزه لرل | ۴,۷۴۱ | ۰,۵۹۹ | ۱ | ۴,۵۵۳ | ۰,۶۵۳ | ۲ |
| ۲ | د محصلينو د کورنيو او کاري ستونزو نه لرل | ۴,۶۷۳ | ۰,۵۹۵ | ۲ | ۴,۴۴۷ | ۰,۷۱۷ | ۳ |
| ۳ | د پوهنتون لوړ کيفيت او اعتبار | ۴,۵۸۵ | ۰,۷۲۴ | ۳ | ۴,۵۵۳ | ۰,۵۴۴ | ۱ |
| ۴ | د علمي درسي او سپورتي مسابقو تر سره کول | ۴,۴۴۰ | ۰,۷۲۲ | ۴ | ۳,۷۴۵ | ۰,۹۴۳ | ۴ |
| ۵ | د تحصيل په جريان کې د محصل دنده لرل | ۴,۳۰۳ | ۰,۸۷۶ | ۵ | ۳,۷۰۲ | ۱,۱۰۲ | ۵ |

له پورته جدول څخه څرګندېږي چې د مؤسسې خارجي عواملو کې د محصلينو له نظره له زده کړې سره د محصلينو علاقه او انګېزه لرل لومړۍ درجه، د محصلينو د کورنيو او کاري ستونزو نه لرل دويمه درجه او د پوهنتون لوړ کيفيت د تدريس په کيفيت درېيمه درجه اغېزناک عوامل ګڼل شوې دي؛ خو د استادانو له نظره د پوهنتون لوړ کيفيت لومړۍ درجه، له زده کړې سره د محصلينو علاقه او انګيزه لرل دويمه درجه او د محصلينو کورنۍ او کاري ستونزي نه لرل د تدريس په کيفيت درېيمه درجه اغېزناک عوامل ګڼل شوي دي.

۷- د مؤسسې د داخلي عواملو درجه بندي: د مؤسسې په داخل پورې د اړوند اغېزناکو فرعي عواملو درجه بندي په لاندې جدول کې ښودل شوې ده:

اووم جدول: د مؤسسې د داخلي عواملو درجه بندي

| ګڼه | د تدریس په کیفیت اغېزناک فرعي عوامل | د محصلینو له نظره | | | د استادانو له نظره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | اوومه کټګورۍ د مؤسسې داخلي عوامل | اوسط | معیاري انحراف | درجه | اوسط | معیاري انحراف | درجه |
| ۱ | د استادانو او محصلینو په ځان باور لرل | ۴,۷٦۴ | ۰,۵۱۱ | ۱ | ۴,٦۱۷ | ۰,٦۱۰ | ۱ |
| ۲ | د محصلینو لپاره تقویتي پروګرامونه (سمینارونه، ورکشاپونه...) دایرول | ۴,۷۴۰ | ۰,۵۵۴ | ۲ | ۴,۵۱۱ | ۰,۵۸۵ | ۵ |
| ۳ | د محصلینو علمي تشویق او هغوی ته انګیزه ورکول | ۴,۷۲۱ | ۰,۵۷۹ | ۳ | ۴,۴۸۹ | ۰,٦۲۱ | ٦ |
| ۴ | د استادانو او محصلینو د رواني روغتیا شتون | ۴,۷۰۵ | ۰,۵۵٦ | ۴ | ۴,۵۱۱ | ۰,۵۸۵ | ۳ |
| ۵ | د کیفیت او تدریس په برخه کې د شفافیت شتون | ۴,۷۰۴ | ۰,۵۳۱ | ۵ | ۴,۴۴۷ | ۰,۵۴۴ | ۷ |
| ٦ | د کیفیت لوړلو په برخه کې د پوهنتون د ادارې هڅه | ۴,٦٦۰ | ۰,۵۹۹ | ٦ | ۴,۵۱۱ | ۰,۸۳۱ | ۴ |
| ۷ | له استادانو سره د پوهنتون د ادارې علمي همکارۍ | ۴,٦۵۱ | ۰,۵۹۵ | ۷ | ۴,۵۳۲ | ۰,۷۱۸ | ۲ |
| ۸ | په پوهنتون کې د ازادي علمي فضاء ایجادول | ۴,٦۱۵ | ۰,٦۷۷ | ۸ | ۴,۳۴۰ | ۰,۷۰۰ | ۸ |
| ۹ | په پوهنتون کې د ظاهری نظم او دسپلین شتون | ۴,۵۵۰ | ۰,٦٦۰ | ۹ | ۴,۲۵۵ | ۰,٦۷۵ | ۹ |

په پورته جدول کې د مؤسسې له داخلي اغېزناک عواملو څخه د محصلینو له نظره د استادانو او محصلینو په ځان باور لومړۍ درجه، علمي پروګرامونه جوړول دویمه درجه او د محصلینو تشویق او هغوی ته انګیزه ورکول درېیمه درجه اغېزناک دي، د استادانو له نظره هم د استادانو او محصلینو په ځان باور لرل لومړي درجه، له استادانو سره د پوهنتون د ادارې علمي همکاري دویمه درجه او د استادانو او محصلینو د رواني روغتیا شتون درېیمه درجه اغیزمن عوامل پېژندل شوې دي.

دویم - د تدریس په کیفیت د اغېزناکو اصلي عواملو درجه بندي

د تدریس په کیفیت د اغېزناکو اصلي عواملو درجه بندي په لاندې جدول کې ښودل شوې ده:

اتم جدول: د تدریس په کیفیت د اغېزناکو اصلي عواملو درجه بندي

| ګڼه | د تدریس په کیفیت اغېزناک اصلي عوامل | د محصلینو له نظره | | | د استادانو له نظره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | اوسط | معیاري انحراف | درجه | اوسط | معیاري انحراف | درجه |
| ۱ | د استاد شخصي او مسلکي عوامل | ۴,٦٨٦ | ۰,۵۵۲ | ۱ | ۴,٦۵۲ | ۰,۵٦۱ | ۱ |
| ۲ | د مؤسسې خارجي عوامل | ۴,٦۷۹ | ۰,۵۸۵ | ۲ | ۴,۴٦۸ | ۰,٦۵۲ | ۳ |
| ۳ | د فزیکي فضاء عوامل | ۴,٦٦٦ | ۰,٦۴۸ | ۳ | ۴,۴٦۰ | ۰,۷۰۱ | ۴ |
| ۴ | د ټولګي د مدیریت عوامل | ۴,٦۳۲ | ۰,٦۱۹ | ۴ | ۴,۴٦۸ | ۰,۷۰۳ | ۲ |
| ۵ | د درسي پروګرام عوامل | ۴,۵۸۳ | ۰,٦۵۱ | ۵ | ۴,۳۷۳ | ۰,٦۹۹ | ۵ |
| ٦ | د مؤسسې داخلي عوامل | ۴,۵۴۸ | ۰,۷۰۳ | ٦ | ۴,۲۰۰ | ۰,۷۹۲ | ٦ |
| ۷ | د زده کړه ییزي ارزونې عوامل | ۴,۵۴٦ | ۰,٦۸٦ | ۷ | ۴,۱۳۴ | ۰,۸۵۲ | ۷ |

له پورته جدول څخه څرګندېږي، چې د تدریس په کیفیت اغېزناك عوامل د محصلینو له نظره د استاد شخصي او مسلکي عوامل په لومړي، د مؤسسې خارجي عوامل په دویمه او د فزیکي فضاء عوامل په درېیمه درجه کې راځي او د استادانو له نظره د استاد شخصي او مسلکي عوامل په لومړي، د ټولګي د مدیریت عوامل په دویمه او د مؤسسې خارجي عوامل په درېیمه درجه کې راځي.

**مناقشه**

ددې څېړنې او د خدیوي او همکارانو (۱۳۹۷) د څېړني پایلې د استادانو له نظره د استاد په شخصي او مسلکي عواملو او د ټولګي د مدیریت په عواملو کې د یوې درجې په توپیر سره مشابهت او د مؤسسې په داخلي عوامل کې تر ټول زیات (پنځه درجې) توپیر لري او په پاته نورو ټولو عواملو کې له دوه تر درې درجې پورې توپیر لري او د محصلینو له نظره د استاد شخصي او مسلکی عواملو او د ټولګي د مدیریت عواملو دواړو کې یو شان درجه لري، داخلي عوامل د یوې درجې په توپیر سره مشابهت او په نورو عوامل کې هم له دوه تر دریو درجو پورې تو پیر لري.

د غنچي، حسیني او حجازي (۱۳۹۱) د څېړنې پایلو ښودلې وه، چې علمي رتبه، په تدریس کې تجربه د تدریس له کیفیت سره مثبت او معنی لرونکي اړیکه لري او هم د تدریس مهارتونه، د مفاهمې مهارتونه، د درس په محتوا کې تخصص او د استاد شخصي او مسلکي مهارتونه په مجموع کې د تدریس د کیفیت

د اجزاوو د وریانس ۷۴ فیصده تشکیلوي، ددې څېړنې پایله هم د هغوی د څېړنې موندنې تائیدوي او د اوسط له نظره ذکر شوې عوامل د تدریس په کیفیت ډېر اغېزناک ګڼي.

دوریسوا او همکارانو (۲۰۱۵) د څېړنې په ترځ کې موندلې وه، چې ارزونه د محصلینو د شخصیت جوړونې او په راتلوونکې کاري ساحه کې د هغوی د تیاري یوه اغېزمنه وسیله کېږي، خو ددې څېړنې په پایلو کې د محصلینو او استادانو دواړو له نظره ارزونه اغیزمنه ګڼل شوې؛ خو نظر نورو عواملو ته اوومه درجه اغېزمنه ګڼل کېږي. ددې ترڅنګ حاضري څېړنې د بلترک او اردکاني (۱۳۹۹) او عارفي، زندي او شهودي (۱۳۹۰) د څېړنو پایلې هم تائید کړې دي.

**پایلې اخیستنه**

د څېړنې د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې ویلای شو، چې د محصلینو له نظره د استاد شخصي او مسلکي عوامل په لومړۍ، د مؤسسې خارجي عوامل په دویمه او د فزیکي فضاء عوامل په درېیمه، د ټولګي د مدیریت عوامل په څلورمه، د درسي پروګرام عوامل په پنځمه، داخلي عوامل په شپږمه او د زده کړه ییزي ارزونې عوامل په اوومه درجه کې راځي.

همدارنګه د دویمې پوښتنې په ځواب کې ویلای شو، چې د استادانو له نظره د استاد شخصي او مسلکي عوامل په لومړۍ، د ټولګي د مدیریت عوامل په دویمه، د مؤسسې خارجي عوامل په درېیمه، د فزیکي فضاء عوامل په څلورمه، د درسي پروګرام عوامل په پنځمه، داخلي عوامل په شپږمه او د زده کړه ییزي ارزونې عوامل په اوومه درجه کې راځي.

د څېړنې پایلې راښیې، چې اوسط ته په کتنې سره یاد شوي اووه کټګورۍ ټول عوامل د تدریس په کیفیت اغېزناک دي؛ خو د هغو له جملې څخه د استاد شخصي او مسلکي عوامل، خارجي عوامل، د فزیکي فضاء عوامل او د ټولګي د مدیریت عوامل تر ټولو ډېر اغېزناک ګڼل شوې دي، چې باید ډېره پاملرنه ورته وشي.

## سرچينې


بلترك، م، & اردكاني كمالي، ح. (۱۳۹۹). شناسايي و رتبه‌بندي عوامل مؤثر بر كيفيت آموزش رشته كارشناسي علوم تربيتي با استفاده از رويكرد ويكور فازی. رويكرد های نوين اموزشي، ۲(۳۲)، ۱۷۹-۱۹۴.

خديوي، ا، سيد كلان، س. م، حسن پور، ت، احمدي، ح، تره باري، ح. (۱۳۹۷). بررسي عوامل مؤثر بر كيفيت آموزش و تدريس در پوهنتون فرهنگیای. نشريه علمي - تحقيقی آموزش و ارزش‌یابی(۱۱)، ۱۶۱-۱۸۵.

ستراتيژيك پلان كمېټه. (۱۴۰۱). استراتيژيک پلان. پکتيکا: پکتيکا لوړو زده کړو مؤسسه.

شهركی پور، ح. (۱۳۹۱). عوامل موثر بر افزايش كيفيت اموزشي دوره های كارشناسي ارشد پوهنتون آزاد پوهنځی علوم تربيتي، تحقيق دربرنامه‌ريزي درسی، ۹ (۲)، ۱۱۸-۱۲۴.

صوری، م، حنيفی، ف، ناظم، ف. (۱۳۹۹). بررسي وضعيت عوامل موثر بر كيفيت آموزشي در مدارس ابتدايی شهر تهران، تحقيقات مديريت آموزشی، ۱(۱۲)، ۲۷۷-۳۰۶.

عارفي، م، زندي، خ، شهودي، م. (۱۳۹۰). بررسي كيفيت رشته علوم تربيتی در پوهنتون كردستان بر اساس مدل‌های كانو و گسترش عملكرد كيفيت، انديشه‌های نوين تربيتی، ۳(۸)، ۱۲۵-۱۵۰.

عدلیې وزارت. (۱۳۹۸). د ملکي لوړو زد ه کړو قانون، کابل: رسمي جريده.

غنچي، م، حسيني، س، حجازي، ی. (۱۳۹۱). شناسايي و رتبه‌بندي مؤلفه‌های تبيين‌كننده كيفيت تدريس از ديدگاه اساتيد پرديس‌های كشاورزي پوهنتون تهران، مجله تحقيق‌های ترويج و آموزش كشاورزی، ۳(۵)، ۳۱-۴۱.

فراستخواه، م. (۱۳۸۹). آينده انديشي درباره كيفيت اموزش عالي ايران؛ مدلی بر آمده از نظريه مبنايي. ۶۷-۹۴.

مصلح، ه، خسروي، م. (۱۳۹۴). بررسي روش‌های ارزيابی كيفيت تدريس اساتيد پوهنتونی از طريق محصلان. مجموعه مقالات دومين كنفرانس ملي و نهمين همايش ارزيابي كيفيت در نظام‌های پوهنتونی.

مطلبي فرد، ع، نوه، ا، عبدالرحيم، محسن زاده، ف. (۱۳۹۱). بررسي و شناسايی نشانگرهاي حرفه‌ای و اخلاقي در آموزش و تدريس از نقطه نظر محصلان كارشناسي ارشد، فصل‌نامه اخلاق در علوم و فناوري، ۶(۴)، ۱-۸.

Brennan, J, & Shah, T. (2010). Managing Quality in Higher Education. An International Prospictive on institutional Asessment and Change, Buckingham: srhe university press.

Durisova, M., Kucharcikova, A, & Tokarcikova, E .(2015). Assestment of Higher Education Teaching Outcomes (Quality of Higher Education .(Procedia - social and Behavioral Sciences, 116, 2085-2089.

Hamiti, M., Reka, R, &Imeri, F. (2015). The Impact of Computer Components in Enhacing the Quality of Tceaching and Learning Process in Universities. Procedia - Social and Behavioral Sciences,(191), 2422-2426.

Rashid, G., Guzel, I., Leonid, A., Nefediev, C & ,.Anvar, N. (2019). Factors Affecting the Quality of Learning Outcome in a Higher Education Institution.) ARPHA Proceedings) V International Forum on Teacher Education, 927-936.

Yaghoubi, M, & Zarandi Sultani, M. (2018). What Factors Affect Education Quality in Higher Education ?International Jourana of Management and Applies Science 85-88.